لومړی کچه

# ورک بیت

education above all
التعليم فوق الجميع




ليکوال: ويشالي شروف
انځور کر: تپاس ګوهه


THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



د جمو او کشمیر ایالت د کریکیټ بیټونو د جوړولو یو له لویو کارخونو په هندوستان کې دی. سنګم، چیرته چې دغه قیصه پکې جوړه ده، ۳۵ کیلومتره له مرکز سرینګر څخه فاصله لري. د چینار د ونو ډیربښت په دغې منطقه کې څه نا څه د دوو سوو کریکیټ بیټونو کارخونو جوړیدو ځای ګرځیدلی.



رحمان چاچا په سنګم کې د کرېکېټ بیټونو جوړولو کارخونه درلوده. کولای مو شوو چې د هغه د کارخونې شاوخوا د بیټونو کتارونه مو لیدلي وی.

دغه بیټونه د چنار له ونو جوړ وو چې د نړۍ تر ټولو با کیفیته بیټونه بلل کیږي. دغه ونې د سنګم سړک پر دواړو غاړو را شنې کیدې. او ریښتیا، تاسي کولای شئ چې دغه ونې په ټول کشمیر کې ووینئ.



رحمان چاچا یو زوړ او په ملا کړوپ سړی ؤ چې د کارونو ارزونې لپاره به په کارخونه کې ګرځېده.

هغه به په تریو تندي له خپلې لکړې سره یو خواه او بل خواه قدم واهه.



عامیر د رحمان چاچا په کارخونه کې کار کاوه. د هغه زوی احمد له هغه سره په کارخونه کې وروسته له ښوونځي څخه اوسیده. هغه په حیرانۍ سره د بیټونو کتارو ته کتل.

هر ماښام به هغه سپوږمۍ ته کتل چې د بیټونو د کتارو تر شا پټیده او له ځان سره به یې فکر کاوه که د دغو کتارو سرته پورته شم، نو سپوږمۍ ته به و رسیږم.



کله به چي عامیر بیټ په ماشین ځرخ کړ نو احمد به هغه راخیسته او لاس به يې پرې را کش کړ. احمد به بیټ له لاستی را نیوه او د مړوند په تاوولو سره به يې هغه په هوا کې و ځرخاوه. احمد اوه کلن ؤ، خو د یو پیاوړي کریکیټ لوبغاړي خوب يې په سر کې چکر واهه.



هر کله به چي د کارخوني کار کوونکي ماښامي له کور خواته تلل، رحمان چاچا به ټول بيټونه شميرل. هغه د خپل ګودام ډير خيال ساته. کله به چې کوم بيټ بی ځایه ؤ، نو جنجال به يې جوړاوه.

او يوه ورځ همدا پيښنه وشوه. يو سهار چې رحمان چاچا ګودام خلاص کړ او غوښتل يې چې بيټونه خپلې لارې کې بار کړي، نو ګوري چې يو غټ او سپک بيټ نشته.



هغه ډېر په غصه شه او خپل ټول کارکوونکي يې را وغوښتل او ويې ويل: يو بيټ نشته. څه فکر کوئ چې چيرته به وي؟
ټولو سرونه ښکته ونيول او ناخبري يې وښوده. او په دې حالت کې چې چاچا په غصه ؤ، هيڅ يوه د پورته کتو جرئت نشوی کولای.
چاچا وويل: څنګه په دې توره شپه کې يو بيټ ورک شي؟ هيڅوک بې له ما او تاسو دغه ګودام ته نه ورننوځي. او بيا چاچا په ټولو چغه کړه، خو هيچا پورته نه کتل.



او بیا رحمان چاچا عامیر ته سترګې ور واړولې او وې ویل: او هو! احمد چیرته ده؟ هغه خو نن نه لیدل کیږي.

عامیر ځواب ورکړ: احمد ناروغ ده او تبې نیولی، رحمان چاچا.

ناڅاپه ټول کارکوونکي او عامیر په خندا شول.



د رحمان چاچا غصه سره شوه او وې ویل:
تاسي سپین سترګي ولې ټول خاندئ؟
بیا عامیر ځواب ورکړ: مونږ هغه ورک بیټ
پیدا کړ، رحمان چاچا!
رحمان چاچا حیران شه او وې ویل: تاسې
ټول زما تر مخ ولاړ یاستئ، نو بیټ څنګه پیدا
شه؟ چیرته ده؟
ټولو د رحمان چاچا لکړې ته کتل او هماغه
بیټ یې د لکړې پرځای په لاس کې ؤ.



هیڅوک نه پوهیدل چې رحمان چاچا دومره خاندي. او همدارنګه څوک نه پوهیدل جې هغه دې مصنوعې غاښونه ولري.

## لارښودونکې پوښتنې

1. په قیصه کې پیښو ته په کتو د رحمان چاچا شخصیت واضیح کړئ؟
٢. کله چې رحمان چاچا د بیټ په اړه په غصه ناکه لهجه پوښتل، ولې ټولو خندل؟
٣. آیا خوښیږي مو چې د کریکیټ لوبه وکړئ یا یې وګورئ؟ کومې نورې لوبې غواړئ چې وې لوبوئ؟
۴. آیا داسې کوم کس پیژنئ چې دې رحمان چاچا په شان شخصیت ولري؟ هغوی کومې ځانګړتیاوې لري؟
۵. تاسو څه فکر کوئ چې رحمان چاچا به څه وکړي که چیرې احمد بیټ اخیستی وي؟ که تاسو د رحمان چاچا پر ځای وی، څه مو کول؟